(c) ketabton.com: The Digital Library



یا به دا عیار و اوازغلی کړم
یا به ټول اوبل دخاوره وخلی کړم
بله څوک نه یم شان شوکت مې ملالو ته نه دی

ستوری سترګی سره لبان به څه دخوښۍ سره
ښه ښتوپکې مې خوښ دی چلولو کې جلتی سره
څه چې څو ستمګار غوښ مې ستا دغه مصرونه دی
سور سالو په سرولاسو نیولی مې زلمو ته دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اشناګوتۍ

څه عجب ملهم دی زخمی زړه ته د اشناګوتۍ
مالګه پکار دی صراف یوازې د لیلا ګوتۍ

زړه د حال په ژبه د اشنا اظهار کوي
دم قدم لحظه کښې د صنم خیال انتظار کوي
را به شي دلدار نو مار ته به کړي حناګوتۍ
- تکرار -

حُسن د حسینو په نقاب څه پټېدی نه شي
زړه د عاشقانو په دی کار څه صبرېدی نه شي
خال د ابرو پر بده ماله ستاګوتۍ د واګوتۍ
(تکرار)

هر اندام دی دی ګُل لکه غوټۍ چې د ګلانو وي
شمع چې بلېږي څنګه حال د پتنګانو وي
سوزي به په اور کښې ګرانه یاره دا زما ګوتۍ
(تکرار)

شعر دی که جنون دی د سیمګار او کامه وال په خپله
اه، دی که فرهاد دی زما سګه سرا یوال په خوله
اخلم قلم اخلم چې اشنا شي په اشناګوتۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# توبه

زما توبه زه توبه د بدگفتاره توبه
د بې وقوفه هغه دوست هغه نگاره توبه

چې به دوستي يارې کوي د يو مطلب د پاره
هسې تګمار د بنګالې تګو و تګماره توبه

لاس په لستوڼي کښې ساتي لاس به هيڅ نه ورکوي
دغه تور مار دی دلستوڼي دغه ماره توبه

په چاول کښې بينه ماهره زه دې سره پيش نشم
د کاغذ ګله ستا دی ډول، سينګار نه توبه

په زړه يو ه په خوله دي بله او بدلي شمه
هسې شيطان، هسې ابليس هسې مکاره توبه

سيمسګار دی کړي دی تشخيص شاعرانه تشخص دي
د مداري د رنګارنګ هغه ګفتار نه توبه

